# بیربل په بونېر کښې څېړنیزه لوسته

## A research Study "Birbal in Buner"

Mr. Umar Nasar
E.mail umernasir141@gmail.com
Phone # 03139650634 [1]
Dr Noor Muhammad Danish Bettani[2]
E.mail danish.bettani@uop.edu.pk
Phone# 03349157557

Issn 2304-1463

## Abstract:

**History, along with description of human conditions and events emphasizes the need for higher and uplifted life Standards and social loftiness, for y records, every important situation of human life. Whenever one turns the pages of history book, one is bound to observes the historical accounts of the battles and skirmishes of the great Mughals and Pathan are a bright chapter in the history. When closely examined, one would surely find that every Mughal Emperor was surely find that every Mughal emperor was a freedom fighter and has activity partaken in the disputes of independence and integrity of Pathan Jalal Ul Din M. Akbar is a remarkable name among the emperors.**

**Akbar initiated a battle against Yousafzai tribe to depend the greatness and honour of his empire as he was asked for help by Zain Khan. Akbar also had a grudge for Yousafzai as they has defeated his father. He was persuaded too by rival Pathan tribes to assault Yousafzai for these reasons. He send the ablest, the wisest and the most intelligent courtier named Birbal whose real name was Mahesh Das. However Birbal got badly defeated with eight thousands soldiers of his army being killed. The main causes of Birbal's defeat in the battlefield was his overconfidence over his courtly knowledge and experiences, his lack of military strategic training and disagreement with his co-partner. Zain Khan's understanding of battle field strategies. For further findings about the event it is recommended to study this research paper.**

تاریخ اصل کښې د انساني ژوند د حالاتو او واقعاتو سره سره د هغوي د ژوند په معیار، اوچتوالي او لوړوالي باندې زور راوړي دا خبره څرګنده ده چې تاریخ کښې د بنیادمو د تېرشوي

[1]. Ph.D scholar Pashto Academy University of Peshawar.
[2] . Assistant Professor Pashto Academy University of Peshawar.

ژوند ټول هر څۀ خوندي شوي پراتۀ وي او د موجوده زمانې خلقو ته د دغه انسانانو د تېر ژوند پۀ بابله خبرتيا هم ورکوي. ځکه چې که نن مونږ څۀ هم د خپلو تېرو مېړنو او بهادرو مشرانو په حقله معلومات لرو يا د هغوي جنګ جګړو او مبارزو نه خبرتيا لرو نو دا صرف او صرف د تاريخ په برکت ځکه چې د هر يو منظم قام په شا د هغوي يو اوږد او لوئے تاريخ پروت وي د دنيا په مخ ګڼ شمېر قامونو او قبيلو ژوند کړے دے او د خپل تېر ژوند نقشونه او نخښې نښانې ئې په هغه خاوره په څۀ نه څۀ ډول سره پرېښودې دي. نو هم دغه شان د نړۍ په مخ د پښتون غوندې عظيم او مهذب قام تاريخ لکه د يو ځلنده باب پروت دے او بيا په تېره تېره د مغل خاندان او پښتون قام يو بل سره تاريخي پېښې او واقعات د دوي ترمينځ دښمنۍ او تربګنۍ هم د چا نه پټ پناه نۀ دي بلکې مونږ چې کله هم د تاريخ پاڼې اړوو نو د دې دوؤ قامونو جنګ جګړې او مبارزې به موخامخا تر نظره تېرېږي.

که وکتے شي نو پښتون قام په ګڼ شمېره قبيلو او خېلونو کښې وېش دے ځکه چې دغه قام قبيلې او خېلونه د دوي يو شناخت او پېژندګلو ده د پښتنو په لويو او غټو قبيلو کښې يوه قبيله د "يوسفزۍ" په نامه هم ده، د "يوسفزو" په خپله خاوره باندې د ابادېدو په حواله ښاغلے ډاکټر راج ولي شاه خټک صيب داسې ليکي:.

"يوسفزي او اتمان خېل د خېبر په لاره د پېښور سمې دوابې ته راکوز شول چې دله زاکو ورته زمکه ورکړه وروستو هم دې يوسفزيو دله زاک له پېښوره وويستل ځوک چې د هزارې په طرف لاړل يوسفزيو د پېښور سمه اونيوه هشتنغر، مردان او د سوات غرونه ئې هم په قبضه کښې کړل".

د سوات، بونېر، چمله او خدوخېل په غرونو او مېدانونو کښې د يوسفزۍ قبيلې خلق د مودو راسې استوګن دي او د خپلو مخصوصو رسمونو، رواجونو لاندې د خپل ژوند شپې سبا کوي او د شروع نه په خپله خاوره د خپل واک او اختيار ژوند تېروي، خو د مغل هر حکمران د دې قام ازادي او خپلواکي چېړلې ده خو د کوم قام په تندي چې د ازل نه جنګ جګړې ليکلے شوې

وي او پېدا هم په جنګ و جدل کښې وي بيا د هغوي سره جنګ جګړې او مبارزې کول څه ويړيانۀ وي خو بيا هم د مغل هر واکدار په دغه لړ کښې خپله حصه وېشلې ده چې پکښې يوه ښکاره نامه د "جلال الدين" محمد اکبر هم راځي.

د اکبر په حواله سره مورخ اسمته داسې ليکي:.

*"اکبر بقول مورخہ اسمتھ لوگوں کا پیدائشی بادشاہ تھا اور وہ بجا طور پر تاریخ کے عظیم ترین فرماروا ں میں سے ایک ہونے کا دعویٰ کر سکتا ہے۔ یہ دعویٰ اس کی غیر معمولی صلاحیتوں اس کے جدت پسندانہ خیالات اور اس کے شاندار کارناموں کی بنا پر ایک نا قابل تردید حقیقت ہے۔ بے شک وہ فعل کی عظیم ترین ہستیوں میں سے تھا"۔*

اکبر باچا چې خپل نوم يې "محمد اکبر" دے په کال پنځلس سوه دوه څلويښت (۱۵۴۲)ء کښې په سنده کښې د عمر کوټ په مقام پېداشۀ د پلار نامه يې همايون او د مور نوم يې حميده بانو بيګم وۀ. هر کله چې همايون د شېرشاه سوري دلاسه ماتې سره مخ شۀ نو د خپل سر پټولو په تلاش او لټون کښې يې د سنده عمر کوټ په مقام پناه واخسته الله پاک دۀ له دلته يو زوے ورکړو چې نوم يې پرې محمد اکبر کېښودۀ وئيلے شي دغه وخت همايون خپل زوي. ته يوه دعا وکړه "چې الله پاک دې د دۀ شهرت په ټوله نړۍ خور کړي" نو د همايون دغه دعا قبوله شوه او نن اکبر په ټوله نړۍ کښې پېژندلے شي د همايون د مرګ نه پس اکبر ډېر په کم عمرۍ کښې د خپل سلطنت واګې لاسو کښې واخيستې نو د خپل مدد او رهنمايۍ له پاره يې بېرم خان خپل نائب وټاکو او د خپل سلطنت مخ په وړاندې بوتللو له پاره يې د نوي سر نه کوششونه شروع کړل. اکبر هم د خپل سلطنت وقار او عظمت په ځاے ساتلو له خاطره د مختلفو قامونو او قبيلو سره په جنګ جګړو سر شۀ. په دغه لړ کښې هغه د کابل بغاوت ختم کړو او چې د کابل له لورې ورته ښۀ پوره سکون اوقلارے راغلو نو د پښتونخوا دې غرئيزو خلقو سر کوبۍ پله يې مخه وکړه خو دلته چې د دې عظيم قام کومې قبيلې هغۀ ته کوم سبق ښودلے دے. نو د هغې احساس اکبر ته د خپل مرګ اخري سلګو پورے وۀ. د اکبر دغې قبيلې سره د جنګ کولو په حواله ښاغلے حيدر علی اخون خېل صيب داسې ليکي:.

"یوسفزئی ان دنوں سب سے بارعب اور تمام پٹھانوں سے طاقتور قبیلہ تھا۔ اکبر کو بھی ان کی تاریخی اہمیت معلوم تھی۔ اسے شیر شاہ سوری جو کہ یوسف زئی مند نڑ تھے کی ہمایون سے اقتدار چھیننے کا قصہ ازبر تھا اسے یہ بھی معلوم تھا کہ ماضی میں اس کے اجداد میں سے کوئی بھی عملی طور پر یوسفزئی کو رام کرنے میں کامیاب نہیں ہوئے ہیں"۔

د دې نه علاوه د اکبر یوسفزی قبیلې سره د جنګ کولو بله وجه دا هم وه چې زمونږ د پښتنو قبیلو ځنې مشرانو د هغهٔ دربار ته دا شکایت وړے وهٔ چې که چرې د یوسفزی قبیلې سرکوبي ونهٔ کړے شوه نو کېدے شي چې حکومت ته خطره پېښه شي ځکه چې هغه وخت تر ټولو مضبوطه او طاقتوره قبیله یوسفزی وه په دې حواله سره ښاغلے اخون خېل صیب داسې لیکي:

"چنانچہ خلیل، مہمند، خٹک اور دوسرے قبائل پر مشتمل جرگہ اکبر کے دربار میں حاضر ہو کر عرض کیا کہ شاہراہ کی غیر یقینی صورت حال کی اصل ذمہ دار یوسفزئی قبائل ہیں۔ اس لیے بادشاہ کو ایسے اقدام کرنے چاہیے جو ان کی سرکشی اور خودسری کا خاتمہ کرکے انہیں محکوم بنائے تاکہ ہمیشہ یہی خطرہ دفع ہو جائے ورنہ ایک دن ان کی یہی طاقت اپ کی حکومت کیلئے خطرہ ثابت ہو گا"۔

له دې نه وروستو د اکبر اراده د یوسفزیو له پاره ښهٔ نهٔ وه هغهٔ غوښتل چې د یوسفزی قبیلې سرکوبي وکړي ځکه چې څهٔ خو د هغهٔ زړهٔ کښې د خپلو پلرونو، نیکونو د وخت د انتقام او بدل اور بل وو او څهٔ پرې د دوي میړانه او بهادري زور او طاقت هم ښهٔ نهٔ لګیدو. بل دا وخت هغهٔ د یو خپل سیاسي چال نه هم کار واخست ځکه چې خټک قبیلې ته د شاهي سړک ذمه واري په دې غرض ورکړه چې یو پښتانهٔ په دوه ځایه وویشي او بل خټک قبیله د یوسفزیو په مخالفت کښې په خپل اعتماد کښې واخلي. له دې نه وروستو اکبر خپل رضائي ورور د یوسفزي قبیلې د زور او طاقت کمولو په مهم راووليږلو خو دلته د ښاغلي حیدر علی اخون خېل دا وېنا هم پوره وزن لري چې:

"یوسفزئ کی سرکوبی کے مہم پر زین خان کو (اکبر کا رضائی بھائی) مقرر کیا وہ بغیر کسی رکاوٹ کے باجوڑ پہنچا۔ لیکن وادی سوات میں داخل ہونے کے لیے اسے مزید کمک کی ضرورت پیش ائی آ کبر نے مزید دو دستے بیر بل اور ابوالفتح کی سرکردگی میں بھیجے۔ یہ دونوں اجڈ اور جنگی شد بد سے بالکل ناآشنا تھے۔ لیکن دونوں بادشاہ کے خوشامدی اور درباری شعرا تھے"۔

خو یاده دې وي چې د مغل او پښتنو ترمینځه کیدونکي دې جنګ کښې د اکبر د دربار ترټولو هوښیار، زهین، قابل او مشیر "بېربل" وژلے شوے وۀ چې د هغۀ په مرګ باندې په اکبر زمکه او اسمان یو شوي وو وس دلته د دغه جنګ، پېښې او واقعې په تفصیل سره ذکر کولے شي خو وړاندې د دې نه چې د بیربل هم څۀ لنډه شان پیژند ګلو وکړم.

بېربل چې خپل نوم یې "مهیش داس" او په بېربل مشهوره وۀ په کال پنځلس سوه اتۀ ویشت (۱۵۲۸)ء کښې پیدا شوے وۀ او د وفات کال پنځلس سوه شپږ اتیا یم (۱۵۸۶)ء دے د پلار نامه یې "ګنګا داس" او د مور نوم یې "انباداویتو" وۀ د هندوستان برهمن قبیلے سره یې تعلق او تړون لرلو چې پلار یې د برهمن په دریم (۳) پشت کښې راځي. د پلار د زمانې دوي د شعر و شاعرۍ سره علاقه لرله او اکبر باچا هم دے خپل دربار کښې د شعرو شاعرۍ او قیصو بیانولو له پاره اخستے وۀ. بېربل خپله د یو غریب خاندان سره تعلق لرو خو هر کله ئې چې د یوې مالدارې کورنۍ جینۍ سره وادۀ اوشۀ نو مالي حالت یې ډېر بهتر شۀ دغه وخت د اکبر دربار کښې نهه تنه مشوره ورکونکي موجود وۀ چې دغه تنانوته یې په هندۍ ژبه کښې "نورتن" وئیل بېربل د اکبر دربار کښې ډېر شهرت بیا موندۀ او دغه نهه تنانو کښې ورته یو خاص مقام حاصل شۀ هر کله چې اکبر د بېربل د هوښیارتیا نه ډېر متاثره شۀ نو د خپل فوځ سر لښکر یې وټاکو. د دې نه علاوه بېربل په ډېرو ژبو هم پوهیدو لکه سنسکرت، هندي، براج او فارسي هغۀ یو شاعر هم وو او څه لږ ډېر نثر یې هم لیکلے دے خو زیاته شاعري یې په "براج" ژبه کښې کړې ده براج یوه مغربي هندي ژبه ده چې د هندوستانۍ ژبې سره تړون لري لکه چې څرګنده شوه چې بېربل د اکبر د دربار په "نورتن" کښې یو وۀ دلته دا لاندینۍ خواله هم ډېرو زن لري چې:

"He was a minister in the administrator of Mughal emperor Akbar and one of the member of inner council of nine advisors he was a poet and an another too".

راځئ چې اوس د ضلع بونېر په سیمه علاقه ملندرۍ کښې د دغه واقعې اوپېښې نه پرده پورته کړو کومه چې د دې سیمې د پښتون قام د ننګ او غیرت یو ښکاره ثبوت دے. هر کله چې زېن خان سره له خپل لښکره تر باجوړه بغیر د څه رکاوټ نه راوورسیدو او د سوات وادۍ ته یې د داخلیدو اراده وکړه نو د دې قام د مېړنتوب، زور او طاقت په حقیقت پوهه شۀ نو د اکبر نه یې د نور فوځي امداد غوښتنه وکړه. اکبر ورله نورې دوه فوځي دستې د بیربل او ابوالفتح په مشرۍ کښې راوالیږلې. خو دا دواړه د جنګ جګړو نه نابلد وو او د اکبر دربار کښې یې د شعرو شاعرۍ او خوش امدۍ په وجه یو خاص مقام حاصل کړے وو.

د دوي په حواله سره ښاغلے حیدر علی اخون خیل صیب داسې لیکي:.

"وہ اکبر کے چہیتے اور نورتن ہونے کی وجہ سے ہمیشہ دربار کی زندگی میں نازو نعم کے عادی تھے میدان جنگ کا منظر انہوں نے کبھی خواب میں بھی نہیں دیکھا تھا"۔

خو د دوي دواړو نه زېن خان یو تکړه، جنګجو، قابل او منلے شوے جرنېل وو. نو هر کله چې دا دریواړه لښکرې د چکدرې په مقام یو ځائے شوې نو د یو بل سره یې د وړاندې تللو دپاره صلاح او مشوره وکړه دریواړو سر لښکرو خپل خپل تجویزونه وړاندې کړل خو دې دواړو د زېن خان د عقل، پوهې او هوښیارتیا نه ډک وړاندیزرد کړو او د زېن خان خبرې ته یې په دې وجه توجه ورنۀ کړه چې دغه دواړه د اکبر دربار کښې د مشیر په څوکۍ ناست وو. له دې نه وروستو زېن خان مجبوراً د دوي تجویز سره اتفاق وکړو ځکه چې دې دواړو د یو ځائے تللو تجویز وړاندې کړے وو، او بیا هم دغه شان دا دریواړه لښکرې په ترتیب سره بیربل وړومبے، ابوالفتح مینځ کښې او زېن خان تر ټولو وروستو په یو ځائے روان شول.

هر کله چې دا لښکرې د ایلم غرۀ کښې د کړاکړ مقام ته راورسیدې نو دلته د دې خاورې مېړنې او تورزن خلق د مخکښې نه مورچه زن شوي سره د خپلو جنګي هتیارو تیار ناست وو او د دښمن په لښکر یې د نظر لګیدو سره سمه زبردسته حمله وکړه. دې ناڅاپه حملې د دښمن د لښکر سم وار پار خطا کړل او د ډېرو سرونه یې هم د تن نه جدا کړل د دښمن لښکر بیا په شا ونۀ کاتۀ او د ویرې او وارخطایۍ دلاسه لاندې مېداني علاقې لیګانۍ ته راکوز شول او د تور ورسک سره نزدې یې پړاؤ واچولو. زېن خان دلته بیا دوې ته مشوره ورکړه او د څو ورځو پاتې کېدو له پاره یې ورته ووئیل. خو دلته بېربل د بل خبرې ته هیڅ توجه نۀ ورکوله او چې څه به یې زړۀ غوښتله هم هغه به یې کوله ځکه چې هغۀ ته د ځان نه بل څوک هم هوښیار نۀ ښکاریدۀ. دغه وخت هغه د وړاندې تلو خبره کړې وه او هم هغه وخت یې لښکر وړاندې روان کړو بېربل او زین خان دواړه د ایلۍ، انغاپور په لاره کړپې ته ورسیدل او د ابوالفتح لښکر ورپسې د وروستو نه د حفاظت زمه واري تر سره کوله. او دې دواړو لښکرو د کړپه کلي نه جنوب اړخ ته په یو لوئے مېدان د ملندرۍ وادۍ کښې خپل پړاؤ واچوو. خو هر کله چې د مغل لښکر دغه مېدان کښې لږ په ساه شو نو د ملندرۍ په غرۀ کښې د مخکښې نه تیار ناستو خلقو د هر اړخ نه د غشو او کاڼو یو باران وورو. د مغل په لښکر دې دوېمې ناڅاپي حملې زمکه اسمان تنګ کړل په لښکر کښې دننه یو شور او غوغا جوړه شوه هر تن داسې ویرې او وارخطایۍ راخستے وو. چې چاته هم د چا د مړاو ژوندي پته نۀ لګیده او هم د دغه شور، غوغا، ویرې او وارخطایۍ په عالم کښې "بېربل" داسې ورک شو چې چاته یې هم د مړ او ژوندي پته ونۀ لګیده. دغه وخت زېن خان هم په پناه اخستو مجبوره شو او چې څنګه د ابوالفتح لښکر راورسیدو نو څۀ قدرې حوصله یې ښۀ شوه، خو دلته د غرونو په شان لوړو او کلکو حوصلو لرونکیو خلقو هغوي له نوره موقع په لاس ورنۀ کړه او ځان سمیدو ته یې هم قدرې پرې نۀ ښودل له دې وروستو زېن خان او ابوالفتح د شپې په تیارۀ کښې ډېر د ویرې او وارخطایۍ په حالت کښې خپل ځانونو بچ کولو کښې کامیاب شو او تر اټک قلعې سلامت ورسېدل او د مغل دا دومره لوئے لښکر په "دره ملندرۍ" کښې همېشه له پاره دفن کړے شو.

په دغه جنګ کښې د بېربل مړینې او اکبر باچا د خفګان په حواله سره اخوند خېل صیب داسې لیکي:

***"بیربل کی موت نے اکبر کے دل پر کاری ضرب لگایا اور تین دن تک سوگ منایا۔ اسے یوسف زئی کی طاقت کا پتہ چلا"۔***

ځکه چې بېربل اکبر ته ډېر زیات نزدې وۀ او د هغۀ په مړینه د ډېر زیات خفګان او پرېشانۍ سره مخ شو وئیلے شي چې اکبر د بېربل په مړینه تر درېو ورځو پورې نۀ څه خوړلي او نۀ څښلي وو او په دغه خفګان او پریشانۍ کښې یې دوه (۲) ورځو پورې زېن خان او ابوالفتح ته د ملاقات اجازت هم نۀ وو ورکړے بله دا هم مشهوره ده چې د دغه جنګ نه وروستو د ملندرۍ په وادۍ کښې دومره وینې بهیدلې وې چې د سړي به پرې دا ګمان کیدو چې ګنې ټولې وادۍ سرے جامې اغوستې دي او چې څوک به هم په دغه وادۍ تیرېدو نو د هغۀ سپینے جامے به د وینو سور والي له وجې نه تکې سرې په نظر راتلې.

په دې جنګ کښې چې اکبر باچا ته څومره ځاني او مالي تاوان رسیدلے وۀ دومره زیان نقصان او تاوان اکبر ته په خپل پنځوس (۵۰) کاله دور حکومت کښې چرته هم نۀ وو رسیدلے. په دې حواله سره ښاغلے محمد پرویش شاهین صیب داسې لیکي چې:

***مغل اور پشتون کے درمیان خون ریز اور بڑی جنگ سوات کی دھرتی پر لڑی گئی کونسی جنگ؟ وہ جنگ جس میں 52ہزار مغل فوج کو موت کے گھاٹ اتار دیا گیا۔***

وس هم دغه دره په بېربل دره مشهوره ده چې مغل خاندان ته د دوي د تباهۍ او بربادۍ او د پښتون قام د لوړوالي، عظمت، مېړنتوب او خپلواکۍ یادونه تازه کوي.

## حواله جات (References)

۱. روهالوجي، راج ولي شاه، ډاکټر، پښتو اکېډيمي، پېښور، ۲۰۱۲، مخ ۵۸.

۲. انوار هاشمي، تاريخ پاک وهند، کراچي بک سنټر، کراچي، ۲۰۰۳، مخ ۲۵۳.

۳. اخوندخېل، حېدر علي، بونېرخدوخېل، مينګوره سوات، ۲۰۰۸، مخ ۴۵

۴. هم دغه، مخ هم دغه

۵. هم دغه مخ هم دغه

۶. www.englishforstudents.com

۷. اخوندخېل، حېدرعلي، بونېرخدوخېل، مينګوره سوات، ۲۰۰۸، مخ ۴۵.

۸- هم دغه، مخ ۴۶

۹- هم دغه، مخ هم دغه

۱۰- هم دغه، مخ هم دغه